# خبـــــــرپا نـــــه

# د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام

## د ډي ډي ار پروګرام له ټاکلي بودجې سره سم پر خپل وخت بشپړ شو.

۲۴ چنګاښ ۱۳۸۵

په دې ګڼه کې


۲ ښاغلي ډيوېډ ويلسن د افغانستان د نوي پيل د پروګرام د نوي رئيس په توګه کار پيل کړ

۳ په افغانستان کې هم د ارام د سمندر د سيمې د بشري پراختيا ريوټ خپور شو.

۴ ولسي اړيکې- د پارلمان غړي خپلو انتخاباتي حوزو ته تللي

۴ د ځلورو مليونو ډالرو په ارزښت د نشه يې توکو پر خلاف د مبارزې پروژې پيلېږي

۴ د پوليسو افسران د حقوقو د ورکړې د بريښنايي جدول د سيستم له روزنې څخه ووتل

۵ د ملګرو ملتونو پراختيايي اداره په افغانستان کې ولسواک حکومت نور هم غښتلی کوي


په تولنه کې د پخوانيو وسله والو د بياميشته کولو د پړاو له بشپړېدو سره د بې وسلې کولو، ملکي ژوند ته د ورستنولو او په ټولنه کې د بياميشته کولو (DDR) بهير د ۱۳۸۵م کال د چنګاښ پر ۹مه نېټه پای ته ورسېد.

دغه بهير د ۱۴۱ مليونو ډالرو له ټاکلي بودجې سره سم پر خپل وخت بشپړ شو. د دې برسېره، د بيا ميشته کولو د پړاو تر بشپړېدو پورې ۲۵٪ پخوانيو جنګياليانو اوږدمهاله او پايېدونکي کارونه موندلي دي.

ډي ډي ار د ۲۰۰۳م کال په فبروري کې د توکيو له کنفرانس سره سم پيل شو او د افغانستان د نظامي ځواکونو د ۶۳۳۸۰ پخوانيو افسرانو او عسکرو په بې وسلې کولو او د افغانستان د نظامي ځواکونو د ۲۵۹ واحدونو په مدغمولو کې يې مرسته وکړه. ۵۵,۸۰۴ پخوانيو جنګياليانو د بيا ميشته کېدو له لارو څخه يوه غوره کړه چې ۵۳۴۱۵ يې ګټه ترې واخيسته او ۲۷۵۹ يې ترې پاتې شو.

په دغو لارو کې کرنه، مسلکي زده کړه او کار موندنه، وړوکی کاراوبار، ماين پاکي، ښوونه، حکومتي دندې، د لاس مزدوري او له ملي اردو او پوليسو سره يو ځای کېدل شامل وو.

<u>د قومندانانو د هڅولو پروګرام</u>

يوه له مهمو ستونزو څخه چې د ډي ډي ار بهير ورسره مخ و د پخوانيو قومندانانو او د دوی د سرتيرو تر منځ ټينګه اړيکه وه، چې دغو اړيکو د ټولنيزې تکيې کلکه شبکه او د امنيت پر وړاندې جوت ګواښ رامنځته کړی و. د دغې مسئلې د اواري لپاره، له بيلابېلو لارو څخه د پخوانيو قومندانانو د بې وسلې کولو او ټولنه کې بياميشته کولو ته ډير پام اړول شوی و. دغو لارو چارو کې مالي مرستې، روزنه، بهر ته سفرونه او حوکمتې دندې شاملې وي. د قومندانانو د هڅولو پروګرام، د ۲۰۰۴م کال په نيمايي کې له پيل راهيسي، ۳۲۰ پخواني قومندانان او د دفاع د وزارت ۱۵۰ جنرالان ملکي ژوندانه ته ستانه کړي دي.

<u>د پخوانيو جنګياليانو له ښځو او ماشومانو سره مرسته</u>

د افغانستان د نوي پيل پروګرام همدارنګه د پخوانيو جنګياليانو ښځو او ماشومانو ته مستقيماً د خدمت وړاندې کولو په تکل کې دی. تر نن ورځې پورې، د پخوانيو جنګياليانو د کورنيو۲۴۵۳۴ ښځو اضافي زدکړې يا په پراختيايي پروژو کې د ګټې د کارونو موقع تر لاسه کړې او يا يې د ترلاسه کولو په انتظار کې دي. د خوراکي توکو له نړيوال پروګرام سره د ښه نيت يو تړون لاسليك شوی چې له مخې به يې د ۲۰۰۶- ۲۰۱۰ مو کلونو تر منځ د خوراکي توکو د نړيوال پروګرام په پروژو کې د پخوانيو جنګياليانو ۴۴۵۵ ښځو ته کار ورکول کېږي. همدارنګه د پخوانيو جنګياليانو له ۱۵۳۹۱۵ ماشومانو سره د ملګرو ملتونو د خوراکي توکو د پروګرام د زدکړې په بدل کې د خوراکي مرستې د پروګرامونو له لارې مرسته شوې ده. ښځو ته په اصلي پروګرامونو کې د ځای ورکولو هڅې، د ډي ډي ار په ستراتيژۍ او د ښځو اړوند فعاليتونو په برخه کې بنسټيز بدلون په ګوته کوي.



<u>د ډي ډي ار د لړۍ په تعقيب: په ټولنه کې د پخوانيو جنګياليانو د بيا ميشته کولو د ملاتړ پروژه</u>

د ډي ډيي ار د عمومي هڅو د پايېدنې لپاره، د ملګرو ملتونو د پراختيايې ادارې د نوي پيل پروګرام له افغان حکومت سره په موافقه کې د بياميشته کولو د ملاتړ پروژه تر غور لاندې نيسي چې د ۲۰۰۷م تر ډيسامبر پورې به د ډي ډي ار د تعقيبي لړۍ په توګه وغځېږي. دغه پروژه به له حکومت سره په ګډه پلي کېږي، اړوندو وزارتونو کې به دولتي کارکوونکي تر هدف لاندې نيسي او دوی ته به د بياميشته کېدو له مسايلو سره د برابري لپاره روزنه ورکول کېږي. د نوي پيل پروګرام به همدرانګه له دې لارې وکړای شي چې د پخوانيو جنګياليانو لپاره د معيشت بېلابېلي مواقع ولټوي. د نومړې پروژې عمومي موخه دا ده چې په ټولنه کې د بياميشته کولو له قضايوو سره د مرستې لپاره د افغانستان حکومت ته اړين مهارتونه ور ولېږدول شي.

<u>د ډي ډي ار شاليد (پس منظر)</u>

د بې وسلې کولو، ملکي ژوند ته د ورستنولو او په ټولنه کې د بيا ميشته کولو پروګرام د ۲۰۰۳م د فبروري په

| ټول بیا میشته شوي کسان | کرنه | مسلکي روزنه | وړوکی کاراوبار | ماین پاکي | ملي اردو | ملي پولیس | د قراردادیانو ټیم | نور | د ښوونکیو روزنه | هغه چې په بیامشته کولو کې یې برخه نه ده اخیستې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په ټولنه کې د بیا میشته کولو پړاو | | | | | | | | | | |
| ۵۵,۸۰۴ | ۲۳,۹۴۰ | ۱۱,۷۳۶ | ۱۴,۲۵۱ | ۸۴۳ | ۷۱۳ | ۹۸ | ۱,۰۲۷ | ۶۳ | ۳۷۴ | ۲,۷۵۹ |
| فیصدي | ۴۲,۹۰٪ | ۲۱,۰۳٪ | ۲۵,۵۴٪ | ۱,۵۱٪ | ۱,۲۸٪ | ۰,۱۸٪ | ۱,۱۸٪ | ۰,۱٪ | ۰,۶۷٪ | ۴,۹۴٪ |

میاشت کې د توکیو د مرستې په کنفرانس کې اعلان شو، چې جاپان یې مخکښ مرستندویه و. دغه پروګرام په عملي توګه د ازمېښتي پروژو له لارې د ۲۰۰۳م کال په اکتوبر کې پیل شو او د ۲۰۰۴م کال تر مې پورې د ټول هېواد په کچه خپور شو. دا چې د افغانستان نظامي ځواك په تدریجي ډول منحل شو، د نظامي ځواکوانو د اټکل شویو ۱۰۰۰۰۰ کسانو د حقوقو د ورکړې له جدول څخه د ۹۳۰۰۰ کسانو نومونه وایستل شول چې دغه کار تر ۱۲۰میلیونه ډېر ډالر وسپمول. دغه سپمېدلې پیسې اوس مهال د دفاع پر سمونو (اصلاحاتو) او افغان ملي اردو باندې مصرفېږي.

ډي ډي ار دوه عمده اهداف درلودل: یو دا چې د پخوانیو قومندانانو او د دوی د سړیو تر منځ د قوماندې تاریخي پلرنۍ اړیکې وشلوي او بل دا چې ملکي ژوند ته ګرځېدلیو کسانو ته دا توان ورکړي چې له اقتصادي پلوه خپلواکي ترلاسه کړي. دې دواړو کارونو په خپل وار د حکومت واك پیاوړی کاوه. په هر حال، ډي ډي ار هیڅکله هم په خپل ذات کې د خلکو د بې وسلې کولو او نه نېغ په نېغه خکلو ته د کار موندنې مسؤولیت درلود بلکې موخه یې دا وه چې د افغانستان د نظامي ځواکونو له پرسونل سره له نظامي دندې څخه ملکي دندې ته تلو کې مرسته وکړي.

د دغه پروګرام ۱۴۱ ملیونه پانګه د لاندې هېوادونو له خوا ورکړای شوې ده:

- جاپان: ۹۱ ملیونه امریکایي ډالر
- برتانیا: ۱۹ ملیونه امریکایي ډالر
- کاناډا:۱۶ ملیونه امریکایي ډالر
- د امریکا متحده ایالات: ۹ ملیونه امریکایي ډالر
- هالنډ: ۴ ملیونه امریکایي ډالر
- ناروې: ۰,۸ ملیونه امریکایي ډالر
- سویټزرلینډ: ۰,۵ ملیونه امریکایي ډالر
- د اروپا کمېسیون: ۰,۱ ملیونه امریکایي ډالر

### د افغانستان د نوي پیل پروګرام تاریخچه

**د افغانستان د نوي پیل پروګرام د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري یوه پروژه ده چې د ۲۰۰۳م کال په اپریل کې د بن د تړون له وړاندوینې سره سم د ډي ډي ار د عمومي بهیر د مرستې لپاره جوړ شو. د یوناما او د افغانستان د اړوندو وزارتونو په ملاتړ، د افغانستان د نوي پیل پروګرام په ټول افغانستان کې د سیمه ییزو دفترونو او ګرځنده واحدونو له لارې د ډي ډي ار یو هر اړخیز پلان طرحه او پلي کړ. دا چې اوس مهال د امنیتي سیکتور پر سمونو ټینګار کیږي، د افغانستان د نوي پیل پروګرام همدارنګه په لاندې برخو کې هم ښکیل دی:**

- **د درندو وسلو ساتنځي**
- **د پرسونل ضد ماینونو او د مهماتو د ذخیرو د له منځه وړلو پروژه**
- **د ناقانونه وسله والو ډلو رنګول (دایاک)**

## ښاغلي ډیوېډ ویلسن د افغانستان د نوي پیل د پروګرام د نوي رئیس په توګه کار پیل کړ

ښاغلي ډیویډ ویلسن، چې د افغانستان د نوي پیل د پروګرام د نوي رئیس په توګه ټاکل شوی، د جولای په سر کې د افغانستان د نوي پیل د پروګرام د رئیس په توګه دنده پیل کړه.

ډیویډ ویلسن پخوا د برتانیې په وسله وال ځواك کې د افسر په توګه دنده ترسره کړې او په ملي او نړیواله کچه د امنیت او د کړکیچ د اداري په برخه کې پراخه تجربه لري. نوموړي په بېلابېلو ستراتیژیکي، سیاسي او نظامي برخو کې کار کړی دی. کله به یې هم چې د تګلارو په جوړونه کې برخه نه اخیسته، نو د نړۍ په ځینو ستونزمنو برخو کې به یې د ملي یا ګڼ ملتیزه ځواك مشري یا د پېچلو عملیاتو مسئولیت پر غاړه درلود.

ډیوید ویلسن د ساحوي کارکوونکي په توګه د عملیاتو په برخه کې د تورن جنرالۍ تر رتبې پورې د قوماندې امتیاز درلود. ده له تقاعد څخه مخکې په ۲۰۰۴ کال کې د برتانیې د ځمکنۍ او سمندري ځواکونو او د شاهي سمندري ځواکونو د قوما ندان په توګه خپله وروستۍ دنده ترسره کړې ده.

نوموړي د بالکان په سیمه کې له ملګرو ملتونو سره د عملیاتو په برخه کې د کار پخوانۍ تجربه لري او همدارنګه په ملکي ساحه کې یې په عراق کې له لنډ مهاله حکومت سره د اساسي قانون په کمیټه کې د ملکي او نظامي اړیکو د سلاکار په توګه دنده ترسره کړې ده. د واده یې ۳۴ کاله کېږي او درې بچیان لري.

ډیوید ویلسن د ښاغلي پیټر ببنګټن پر ځای ټاکل شوی دی. پیټر ببنګټن په ۲۰۰۳ م کال کې د افغانستان د نوي پیل له پروګرام سره یوځای شو او د ۲۰۰۶م کال د جون د میاشتې تر ۳۰ مې نیټې پورې یې د دی ډي آر بهیر په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

## په افغانستان کې هم د ارام سمندر د سیمې د بشري پراختیا رپوټ خپور شو.

د دوشنبې پر ورځ، چې د ۱۳۸۵م کال د چنګاښ له ۲۶مې سره سمون لري، د افغانستان په پلازمینه کابل کې د ملګروملتونو د پراختیایي ادارې د ارام سمندر د سیمې د بشري پراختیا رپوټ خپور شو چې د خپراوي په دغو مراسمو کې د بهرنیو چارو او سوادګرۍ وزارتونو لوړ پوړو چارواکو او نړیوالو ځیرو برخه اخیستې وه.

دغه رپوټ ”سوداګرۍ د بشري پراختیا له شرایطو سره سم: په اسیا او د ارام سمندر سیمه کې د بشري پراختیا لپاره په سوداګرۍ کې د بدلون راوستل“ د سوادګرۍ او اقتصادي ودې په اړه وروستۍ پرمختیاوې ازمویي او پر بشري پراختیا، په ځانګړي ډول د سیمې پر غریبو هېوادونو او دهغوی پر غریبو خلکو یې اغیزې ارزوي.

رپوټ همدارنګه پر دې خبره ټینګار کوي چې نه سوادګرۍ او نه وده په خپل ذات کې وروستۍ موخې دي، بلکې د سترې بشري پراختیا او د بې وزلۍ (فقر) او محرومیت پر وړاندې د جګړې لارې چارې دي. دغه رپوټ له هېوادونو سره د نړیوالې سوداګرۍ د نوي پیچلي چاپریال له ننګونو سره د مقابلې لپاره یوه اته ټکیزه اجنډا وړاندې کوي.

په ۲۰۰۴م کال کې افغانستان د ”امنیت په بشري بنه کې: ننګونې او مسؤولیتونه“ تر نامه لاندې د بشري پراختیا لومړی رپوټ خپور کړ. دغه رپوټ له دې پیغام سره راووت چې ”فقر، بې کارې او نامساوات د افغانستان د ورځني ژوند پر وړاندې د دوديزو ګواښونو په پرتله ستر ګواښونه دي.“ اوس د بشري پراختیا یو مرکز په کابل پوهنتون کې جوړېږي څو د افغانستان لپاره پر راتلونکي بشري پراختیايي رپوټ باندې کار پیل کړي. دغه مرکز د بشري پراختیا او په مجموع کې د څېړنې په هکله د څېړنې، تبلیغ او ښوونې د اوږد مهاله ظرفیت ملاتړ کوي.

د افغانستان په شرایطو کې د غه رپوټ د افغان دولت د سیمه ییزې همکارۍ له هغه چوکاټ سره سر خوري چې د پراختیا لپاره د سوداګرۍ، ترانزیټ، پانګه اچونې، د کار ګارو د تبادلې او پر سیمه ییزو سرچینو د تکیې له لارې له پرمختلونکي سیمه ییز اقتصاد سره د افغانستان د یو کولو لپاره طرحه شوی دی.

د افغانستان لنډ مهاله پراختیایي ستراتیژۍ همدرانګه سیمه ییزو او نړوایولو بازارونو ته د افغانستان لارموندنه، هغه ډول چې په سیمه ییز رپوټ کې تر بحث لاندې نیول شوې، د افغانستان د اقتصادي ودې او سیاسي ټینګښت (ثبات) د لاسته راوړو د لارو چارو په توګه په ګوته کوي.

د افغانستان د ۲۰۰۴م کال د بشري پراختیا د لومړي رپوټ د بریا په تعقیب، د ملګرو ملتونو پراختیایي اداري او کابل پوهنتون په کابل پوهنتون کې د پالیسي او بشري پراختیا د مرکز پر جوړولو کار پیل کړی دی.





**د اسیا د ارام سمندر د سیمې د بشري پراختیا د رپوټ د سر خبرې**

**د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري د مشر له خوا**

نړیوال تجارت د اسیا او د ارام سمندر د ډیرو هېوادونو د ودې اصلي محرك دی. د ختیزې اسیا د پړانګانو معجزه یي اقتصاد تر ډیره برېده د دوی د هغې وړتیا له امله دی چې کولی شي نړیوالو بازارونو ته خپل مالونه صادر کړي او په داسې کچه او ټکنالوجۍ باندې خپل مالونه تولید کړي چې په بدل کې یې ډیر څه تر لاسه کړي. په دغه سیمه کې بېوزلۍ (غریبۍ) ډیره کمه شوې او د سلګونو ملیونو خلکو د ژوندانه په کیفیت کې د پام وړ ښه والی راغلی دی.

خو ځیني هېوادونه یې وروسته پاتې دي. د دغې سیمې ډیر شمېر وړو هېوادونو، په ځانګړې توګه لږ پر مختللیو هېوادونو تر اوسه پورې له سوداګرۍ څخه د پام وړ ګټه نه ده پورته کړې. د سیمې د کلیوالو سیمو بېوزلي خلك په کرنه (زراعت) کې له پاتېکېدو څخه ژوبل شوي دي، ځکه چې د نړیوال بازار نوي بډایان کلیوالو سیمو ته رسېدو کې، چېرې چې ډیر خلك اوسېږي، پاتې راغلي دي. سوداګرۍ ان په هغو هېوادونو کې، چې چټك پرمختګ کوي، د سیمو، پوړونو او کورنیو تر منځ د توپیر واټن پراخه کړی دی. ډیر اقتصادونه، په ځانګړې ډول ختیزې اسیا کې، نشي کولی چې خپل زیاتېدونکي نفوس، په ځانګړي ډول ځوانانو او ښځو، ته کار پیدا کړي.

د اسیا او ارام سمندر د بشري پراختیا د ۲۰۰۶م کال رپوټ، سوداګرۍ له انساني شرایطو سره، په یو ډیر مهم وخت کې راوځي، ځکه چې له یوې خوا د دوهې د پراختیایي پړاو د بشپړېدو د وروستي کال یو څو میاشتې پاتې دي او له بلې خوا موږ د لږو پرمختللیو هېوادونو د پراختیا لپاره د برسل د لس کلن پروګرام په نیمایي کې یو او د زریزې د پراختیایي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره له یوې لسیزې څخه کم وخت لرو.

لکه څنګه چې په رپوټ کې ګورو، ځورونکې ننګونې په خپل ځای پاتې دي. د سوداګرۍ، بشري پراختیا او د بېوزلۍ د کمولو د هڅو تر منځ اړیکې کمزورې شوې دي. د نړیوالې سوداګرۍ د سازمان غړو کله نا کله پرمختلونکو هېوادونو ته د نړیوالتوب (ګلوبلایزیشن) له ګټو څخه د خپلې برخې ترلاسه کول ستونزمن کړي دي. د چین ایرانوونکې اقتصادي وده، چې تر ډیره ځایه ګاونډیانو ته الهام ورککونکی نقش لري، د سوداګرۍ خپلې سیمه ییزو شریکانو ته متقابله ګټه نه ورکوي او ان تر دې چې په ځینو قضیو کې هغوی ته ستونزې پیدا کوي. د دې رپوټ یو پیغام دا دی چې په نړیوال بازار کې بریا له ځان سره نوې مواقع او همدارنګه مسؤلیتونه راوړي په ځانګړې توګه د لږو پرمختللیو هېوادونو په وړاندې.

دغه رپوټ د اسیا د ارام سمندر د هېوادونو له پلوه هغه تغیرات ارزوي چې د نړیوالې سوداګرۍ په سیستم کې باید د ”پراختیا لپاره د نړیوال مشارکت“ او د ”زریزې له پراختیایي اهدافو“ سره سم راوستل شي . دغه رپوټ د سیمې له رنګارنګ تجربې څخه په ګټې اخیستو سره داسې یوه هر اړخیزه پراختیایي ستراتیژي وړاندې کوي چې د سوداګرۍ ازادي، د بېوزلۍ کمونه او بشري پراختیا په اغیزمنه توګه سره تړي.

`سوداګرۍ له انساني شرایطو سره` همدارنګه د ملي تګلارو هغه ډولونه په ګوته کوي چې د سوداګرۍ له ګټو څخه د ټولو خلکو د خبرولو لپاره ضروري دي. د تګلارو دغه ډول سپارښتنو کې په زیربنا ، لوړو زدکړو او د سیالي لپاره څېړنه او پراختیا کې پانګه اچونه؛ د سوداګرۍ او صنعت د ستراتیژیکو تګلارو خپلول؛ پر کرنه او کلیوالې پراختیا باندې نوی تمرکز؛ او د بې کارۍ پر وړاندې مبارزه کې نوي ګامونه اخستل شامل دي. د دغه رپوټ نظریې له ښه نړیوالتوب (ګلوبلایزیشن) سره مرسته کولی شي، داسې نړیوالتوب چې د اسیا د ارام سمندر په هېوادونو او ټوله نړۍ کې د ټولو لپاره ګټور وي.

د `سوداګرۍ له انساني شرایطو سره` رپوټ د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام لپاره هم ډیرمهم دی، ځکه چې د اسیا د ارام سمندر د بشري پراختیا رپوټونو کلنۍ بڼه خپله کړې ده. موږ تمه لرو چې دغه کلني سیمه ییز رپوټونو به د هغو مهمو پراختیایي مسئلو شنني( تحلیل) ته ادامه ورکړي چې په ملي او نړیواله کچه ډیرې مناسبې ثابتې شي.

**کیمل ډرویس**
**د ملګرو ملتونو**
**د پراختیایي اداري مشر**

## ولسي اړيکي- د پارلمان غړي خپلو انتخاباتي حوزو ته تللي



کندز: د پارلمان او مدني ټولنو غړي

د هغې لړۍ لومړي ورکشاپونه، چې د پارلمان غړي، د مدني ټولني سازمانونه او ځايي رسنۍ سره راټولوي، د جون په ورستيو ورځو کې په باميانو، کندز او وردګو کې جوړ شول.

د دغو ورکشاپونو موخه دا وه چې د مدني ټولنو او ځايي خبري رسنيو له لارې د پارلماني غړو او د دوی د ټاکونکو تر منځ اړيکي ښې او ټينګې کړي.

په باميانو، کندز او وردګو کې جوړ شوي ورکشاپونه د هغه لوی پروګرام يوه برخه ده چې لږ تر لږه په لسو ولايتونو کې پلي کيږي. په هر حال د افغانستان د شرايطو پيچلتيا ته په پام سره ورکشاپونه داسي نه دي ډيزاين شوي چې يو شان دي وي. د دې پر ځای له ځايي نادولتي مؤسسو سره په همکاری کې، چې د ورکشاپونو پر محتوياتو يې ډيره اغيزه درلوده، ډيزان شوي دي.

په باميانو کې دغه ورکشاف دوه ورځنی (جون ۲۶ او ۲۷) پروګام و، چې په لومړی ورځ کې له خبري رسنيو سره د منتخبو پارلماني غړو اشنايي پيداکولو ته په کې پام اړول شوی و او دويمه ورځ د پارلماني غړو، خبري رسنيو او مدني ټولني تر منځ ناستي ته بيله شوي وه.



باميان: د پارلمان له ځايي غړو سره د خبري رسنيو ناسته

په کندوز کې ورکشاف د جون له ۲۷مي تر ۲۹مي نېټې پورې جوړ شوی و. په لومړی ورځ کې خبريالانو ته د سياسي چارو په اړه د رپوټ ورکولو په برخه کې روزنه ورکړای شوه. دويمه ورځ په دوو برخو ويشل شوي وه چې د سهار ناستي يې له خبري رسنيو سره د پارلماني غړو د اشنايي پيداکولو موخه درلوده او په ماسپښيني ناسته کې د پارلمان د غړو او مطبوعاتو تر منځ خبرو اترو ته پام اړول شوی و. دريمه ورځ په بشپړه توګه د پارلماني غړو او ځايي مدني ټولنو تر منځ د نظرياتو او معلوماتو تبادلې ته بيله شوي وه.

## د څلورو مليونو ډالرو په ارزښت د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې پروژې پيلېږي

د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې اړوند څلور پروژې چې ټول ټال څلور مليونه امريکايي ډالر پرې لګيږي د ملکرو ملتونو د پراختيايي اداری د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې د امانتي صندوق له لارې پيليږي.

د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې او د برېښنا او اوبو وزيرانو او د کرنې، مالیې او عامې روغتيا د وزارتونو د معينانو تر منځ په دغه اړه تړونونه لاسليک شوي دي.

۱. دري د اوبو د برېښنا د ورو ستيشنونو يو کلنۍ پروژې چې په راتلونکي کال کې به د بدخشان په چټا، جورم او سنګاب کې جوړيږي. د دغو پروژو ټول لګښت ۲،۵۴۵،۷۰۰ ډالره دی او د اوبو او برېښنا وزارت يې پلي کوي.

۲. د مرخيتيو يوه ازميښتي پروژه په وره کچه په کابل، بغلان، ننګرهار، بدخشان، بلخ، هرات، تخار، کندز، غزني او باميانو کې پيليږي. ټول لګښت به يې ۱۳۰،۸۲۵ ډالره وي او د کرنې او اوبو لګولو وزارت يې په شپږو مياشتو کې پلي کوي.

۳. په اتو ولايتونو (غور، غزني، باميانو، نيمروز، فراه، فارياب، کندز او جوزجان) کې د معتادينو (پر نشه يي توکو اخته کسانو) د درملنې داسي پروګرامونه چې ولس هم په کې برخه لري جوړيږي. ټول لګښت يې ۹۳۵،۳۶۱ ډالره دی او د عامې روغتيا وزارت يې پلي کوي.

۴. په ننګرهار او بلخ کې په کورونو کې د معتادينو د درملنې دوه پروګرامونه. ټول لګښت يې ۳۵۴،۲۰۷ ډالره دی او د عامې روغتيا وزارت يې پلي کوي.

## د پوليسو افسران د حقوقو د ورکړې د برېښنايي جدول د سيستم له روزنې څخه ووتل

د کورنيو چارو د وزارت او څوارلسو ولايتونو پوليس افسرانو په هغه شل ورځني سيمنار کې برخه واخيسته چې د کمپيوټرونو د لومړنيو مهارتونو، د حقوقو د ورکړې د برېښنايي جدول د سيستم او د بشري سرچينو د ډيټابيزپه هکله و. دغه سيمنار له پوليسو سره د قانون د واکمنۍ او نظم د امانتي صندوق د مرستي يوه برخه ده.

جنرال کودماني، د کورنيو چارو وزارت د سيمه ييزو زدکړو د څانګې مشر،په رسمي مراسمو کې پر۴۳ وارو هغو پوليس افسرانو برېليکونه وويشل چې په سيمنار کې يې برخه اخيستي وه.

ډګروال محمد معصوم، د هلمند د پوليسو د پلان مشر د دغه سيمنار په هکله وويل: "مور د کمپيوټر له اساساتو، د حقوقو د ورکړې له برېښنايي جدول او د بشري سرچينو له ډيټابيز سره ځانونه اشنا کړل او پرې وپوهيدو. مور اوس پر هغو ستونزو برلاسي شوي يو چې تر دې دمه ورسره مخ وو. د حقوقو ورکړې او حساب په پخوا ډير وخت نيوه، خو اوس د نوي کمپيوټري سيستم پر مټ دغه کارونه په ډيره اغيزمنه توګه په ډير کم وخت کې ترسره کولی شو او همدارنګه پلازميني ته هم ډير ژر رپوټ ورکولی شو."

دا لومړی ځل دی چې د افغانستان پوليس د حقوقو د ورکړې له برېښنايي جدول او د بشري سرچينو له ډيټابيز څخه ګټه اخلي. تر دې دمه هر څه په لاس ليکل کېدل چې هم يې ډير وخت نيوه او هم اغيزمن نه وو. دغه نوی سيستم به همدارنګه د کورنيو چارو وزارت د دې جوګه کړي چې پوليسو ته تنخا پر خپل وخت ورکړي او د تنخاوو په ورکړه کې د درغليو امکانات به محدود کړي.

## د ملګرو ملتونو پراختيايي اداره په افغانستان کې ولسواك حکومت نور هم غښتلی کوي

د ملګرو ملتونو پراختيايي ادارې ۱۰،۶ مليونه ډالره اسيا فاونډيشن ته د افغان دولت د اجرايه، مقننه او قضايه څانګو تر منځ د اړيکو د ښه والي او کاري وړتيا د لوړولو لپاره ورکړل.

اسيا فاونډيشن يو داسې سازمان دی چې ځانته ګټه نه اخلي او له ۱۹۵۴م کال راهيسي يې د اسيا د پرمختګ لپاره ځان وقف کړی دی.

دغه سازمان اوس مهال د ملګرو ملتونو له پراختيايي ادارې سره د ۱۰،۶ مليونه ډالرو د تړون له لارې لاس يو کړی څو د ولسمشر د دفتر چاپېره مرکزي اجرايي ارګانونو له پراختيا او پرمختګ سره مرسته وکړي.

دغه مرسته به، چې سم لاسي پلي کيږي، د ولسمشر د دفتر، د چارو د لوی رياست او د وزيرانو د شورا د ارالانشاء کاري ظرفيت د اداري تشکيلاتو، کړنلارو، وسايلو، ودانيو او د معلوماتي ټکنالوجۍ د تازه کولو له لارې لوړ کړي. دغه پروژه به د اجرايه، مقننه او قضايي څانګو تر منځ د اړيکو ښه والي ته، د دوی ترمنځ د اړيکو د رسمي شبکو د غښتلي کولو او همدارنګه له تقنيني بهيرونو سره د تخنيکي مرستې له لارې، سم لاسي پام واړوي.



له کيڼ لوري: عبدالباري، د دولت جوړونې او د حکومت د ملاتړ په چارو کې د ملګرو ملتونو د پراختيايي ادارې مرستيال او جان سومر په افغانستان کې د اسيا فاونډيشن مسؤول

### د اسيا فاونډيشن په هکله

اسيا فاونډيشن يوه داسې نادولتي مؤسسه ده چې ځانته ګټه نه کوي او د يوې سوله ييزې، سوکاله، عادلې او پرانيستې اسيا پراختيا ته ژمنه ده. دغه مؤسسه په اسيا کې د هغو پروګرامونو ملاتړ کوي چې د حکومت او قانون، اقتصادي سمونو او پراخاتيا، د ښځو د ځواکمنولو او نړيوالو اړيکو له ښه والي سره مرسته کوي. نومړې مؤسسه په اسيا کې له خپلې ۵۰ کلنې تجربې څخه په ګټې اخيستو سره له دولتي او خصوصي شريکانو سره د مشرتابه، بنيادي پراختيا، د کدرونو د تبادلې او د تګلارو د څيړنې په برخه کې ګډ کار کوي.

ويبپاڼه: www.asiafoundation.com





**د لازياتو معلوماتو لپاره:**

ډومنيک ميډلي، د خبري رسنيو د اړيکو مسوول
+۹۳ (۰) ۷۰ ۶۹۱ ۹۸۵
dominic.medley@undp.org

عزيز الرحمن ګلبهاري، د اطلاعاتو او نشراتو مسوول
+۹۳ (۰) ۷۹۹ ۳۷۰ ۵۶۷
aziz.gulbahari@undp.org